**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د بې ګناه کسانو وژنه او په جنازه یې کې ګډون!**




(ژباړه)

**خبر:**

د الدرر الشامیة سایټ د راپور له مخې د یکشنبې په ورځ ترکي خبریال (حمزه تکین) د فوځ د مشر له جدي تصمیم څخه، چې پر سوري ځوانانو د تیري د عاملینو د سزا لپاره و، خبر ورکړ او ویې ویل: «د ترکیې د پوځ عمومي مشر دغه تصمیم د هغه ویډیویي کلیپ له خپرېدو وروسته ونیو، چې پر سوري ځوانانو د دغه هیواد د ژاندارمري پوځ د سرتیرو تېری ښیي.»

تکین په خپله رسمي فېسبوک پاڼه کې ویلي: «د ترکیې د فوځ عمومي مشر د دغې ویډیو په اړه خپل نظر وښود او ویې ویل: د فوځ دغه عمل د منلو وړ نه دی او مردود دی.»

دغه خبریال زیاته کړه: «د ترکیې د فوځ مشر پر سوري ځوانانو د تېري کوونکو سرتېرو د نیولو او څارلو غوښتنه کړې، او امر یې کړی، چې دغه ځوانان دې خپل هېواد ته له تګ وړاندې معاینه شي، ترڅو یې له صحي وضعیته ډاډه شو.»

**تبصره:**

بې له دې چې دا خبره ریښتیا ده که درواغ، پوښتنه دا ده؛ چې د هغو کسانو د وینو برخلیک څنګه کیږي، چې ژاندارمري ځواکونو د ترکیې د پولو په اوږدو کې وژلي؟ د دغو وژل شوو کسانو شمېر تر دریو سوو اوړي، په ځانګړې توګه په دې وروستیو کې، چې د ویشتونکو له لوري د ترکیې له پولو څخه د تېرېدونکي کسانو هدف نیول

په چټکۍ سره زیات شوي او د دوی د تېرېدو مخه نیول کېږي؛ په داسې حال کې چې د انقلاب په لومړیو کې کډوالو ته اجازه ورکول کېده، چې د دغه هېواد له پولو څخه تېر شي.

له شکه پرته د هغه وینو حرمت ډېر دی، چې د ترکیې رژیم بې ګناه او له کوم جرم پرته  تویې کړې دي او همدارنګه د اسلام په سپېڅلي دین کې د بې ګناه کسانو وینو د تویولو د حرمت لویي ښکاره ده او د دغه ډول بې ګناه وینو د تویولو تمه له هغه دښمن څخه کیږي، چې هره شبېه مسلمانانو ته په کمین کې ناست وي یا له هغه منافق مزدور څخه چې پر اسلام باور نه لري؛ خو د پام وړ خبره د ترکیې د رژیم او ملاتړو لخوا یې د دغه ډول خبر خپرول دي. هغه خبر، چې ګواکي ترکیې د مسلمانانو د ځېونکو عناصرو د قانوني څارلو امر ورکړی او د خپلو ظلمونو څخه مخنیوی کوي. له شک پرته چې د ترکیې رژیم هېڅکله له لمر څخه روښانه حقیقت په دوو ګوتو نه شي پټولی؛ هغه حقیقت چې په ښکاره توګه ښيي، چې د ترکیې رژیم د سوریې د انقلاب د دښمنانو تر څنګ سنګر نیولی او له دوی  سره یې اوږه په اوږه مسلمانان هدف ګرځولي. تر ټولو دردوونکې داده، چې دغه د ترکیې د رژیم لومړنی جنایت نه دی، بلکې دوی دښمن ته د حلب ښار په تسلیمولو ، د اسلام دښمنانو ته د انجرلیک اډې په واک ورکولو، د سیکولر مخالفینو په ملاتړ او نورو جنایتکاره اعمالو کې لوی لاس لري او تل یې داسې جنایتونه او خیانتونه کړي دي.

د ترکیې رژیم باید پوه شي، چې د بې ګناه انسانانو وژل او بیا یې په جنازه  کې ګډون کول، د جنایتکارو منافقینو صفت دی. جنایتکاره منافق چې د تمساح په شان په خپل ښکار اوښکې تویوي او د خپلو دروغجنو اوښکو له پاکولو وروسته په قتل او جنایت لاس پورې کوي. له شک پرته د تمساح دغه اوښکې تویول د شام باخبره او مخلص مسلمانان نشي غولولی. د الله سبحانه وتعالی په مهربانۍ د شام انقلاب هغه انقلاب دی، چې د چټلو څېرو له مخه یې پرده پورته کړې او دغه خاینې څېرې یې رسوا کړې دي. همدارنګه شک نشته چې د شام انقلاب د ترکیې د رژیم له چټلې څېرې پرده پورته کړې او د دوی خیانتونه یې نړیوالو ته ښکاره کړي دي.

په پای کې باید ووایو، داسې کسان شته چې د دغه رژیم دفاع کوي او جنایتکارانه اعمال یې توجیه کوي؛ نو پوښتنه دا ده، چې څوک به د قیامت په ورځ له دغه وینې تویوونکي رژیم څخه دفاع او د هغه جنایتکاره اعمال توجیه کړي؟ هغه ورځ چې انسان ته نه مال او نه هم اولاد ګټه رسوي. الله سبحانه وتعالی خبرداری راکړی:

**﴿هَا أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ جَادَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَمَن يُجَادِلُ اللَّهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا﴾** [نساء: ۱۰۹]

*ژباړه: هو! تاسو خو په دنیوي ژوندانه کې د دغو مجرمانو جنګ په خپل سر باندې واخیست او دفاع مو یې وکړه، خو د قیامت په ورځ به څوک د الله پر وړاندې د دوی دفاع وکړي؟ نو هلته به څوک د دوی وکالت وکړي؟*

لیکوال: منیر ناصر

۱۴۳۸هـ ق، د ذوالقعدې ۹مه

۲۰۱۷م، د اگیسټ ۱